سرلوڅ مرادزی ۲۰۱۳ / ۰۵ / ۰۹

# ډیورنډ کرښه او د نظارشورا ملي ضد دریځ

افغانانو لپاره د ډیورنډ د استعماري او تپلي کرښې په وړاندې چلند او دریځ، نه یوازې د کرښې پر دواړو غاړو لروبرو افغانانو منځ کې، بلکې له هغه هیوادو سره چې افغانستان ورسره دې روستیو کې ستراتیژیک تړونونه او تفاهم لیکونه لاسلیک کړي او افغانستان سره د دوستی لاپې وهي، د مخالف او دوست د مالومولو لپاره د یوه محک حیثیت لري.

هغه مکار سیاستوال او هغوی چې په درواغو ځانونه د ځینو افغاني اتنیکونو سرخېلان بولي او ډیورنډکرښې سره تړلې د هیواد عمومي ملي ګټې او ارزښتونه، د خپلو شخصي ګټو او یا قومي او سیمه یزو تنګنظریو په لامل ترپښو لاندې کوي، حقیقت کې د هیواد د برخلیک په دې حساسو شېبو کې د پنجابي خونړي دوښمن لپاره په افغان دولت کې د پنځم ستون او لستونې مار دنده ترسره کوي او غواړي په پنجابي چاړه هیواد د شالخوا وهي!

خو بلخوا هغه هیوادونه چې پر دې کرښه په یو طرفه توګه، د پنجاب په خوا درېږي او د هغه په ګټه چنې وهي او د افغان لوري غوښتنې او ګټې له پامه غورځوي، په هیڅ صورت د افغانانو دوست نه شي پاتیدلای .

په ۱۸۹۳ کال د ډیورنډ کرښې د تفاهم لیک په مهال هم، انګریزانو د امیر عبدالرحمان خان په وړاندې د فشار د وسیلې پتوګه، هیواد کې ځیني ایتنیکې ډلې لکه هزاره ولمسول او امیر عبدالرحمان خان یي په دوه لار کې ودراوه چې یا به د ډیورنډ تفاهم لیک په هغه بڼه چې انګریز یي غواړي، مني او یا به د هیواد په زیات پاشل کېدو او توټه کېدو، له افغانستان څخه تیریږي.

داسې ښکاري چې تاریخ یوځل بیا په پخواني ماهیت او نوې بڼه تکراریږي او هغه دا چې دا ځل پنجاب د انګریز پرځای او د انګریزي زړې تګلارې ( Forwards Policy ) په مټ، د ډیورنډ د استعماري او خیالي کرښې چې افغانانو لا هغه هم هیڅکله نه ده منلې سربېره، د ډیورنډ کرښې پر بره غاړه د پاتې افغانستان په لور راخوځیږي او د ګوشتې ولسوالی په برید ۵۵ کیلو متره مخې ته راځي او دا وار په کور دننه د پنجاب لپاره د پنځم ستون او پر افغانستان د شا لخوا د ګوزار دنده نظارشورا پر غاړه اخیستی وي!

نظارشورا چې د ډبل عبدالله په سرخېلی د ملي ائتلاف، د ضیامسعود په سرتومبی د ملي جبهې او د ( پهلوان زنده خوش) قسیم فهیم او خیالي بسم الله جان او نورو په ګډون یي چې دولت کې د غوړې ونډې سره سره ، په ټګی ځان په دریو برخو ویشلی افغانانو ته وریپژني، ټولې ډلې او ګروپونه یي بیا بې توپیره خپلمنځي غونډو او رسنیو کې په بېشرمی وایي چې دوي ډیورنډ کرښه د نړیوالې پولې پتوګه پیژني، افغانستان له ډیورنډ پورې غاړه یو لویشت حق نلري او د ډیورنډ کرښې په اړه ولسمشر کرزي بې مسولیته خبرې کوي!

دا یوه ستې او درې سره بلا ، د ولسمشرکرزي روستی څرګندونې چې وایي افغانانو د ډیورنډ استعماري کرښه هیڅکله نه ده منلې او نه به یي راتلونکې کې ومني، د بې اعتباره کولو لپاره له هیڅ راز تور، چلوټې او پنجاب سره د خپلمنځي معاملې ، نه لاس په سر کیږي!

کورنیو چارو وزیر ته د یوې نږدې سرچینې دا خبره « کله چې افغان سرحدي پولیسو په ګوشته کې پر پاکستاني پوستو برید وکړ، مارشال فهیم سخت په غوسه و او د کورنیو چارو وزیر یې د ټېلېفون له لارې وګواښه چې ولې یې برید ترسره کړی دی. د یوه بل خبر له مخې ولسمشر کرزي چې کله دفاع وزیر بسم الله خان ته امر وکړ، چې ګوشته کې پاکستاني پوستې او دروازه له منځه یوسي، نوموړي د امر له ترسره کولو ډډه کوله او د مارشال امر ته یې سترګې نیولې وې. تاند»


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ملي ضد ائتلاف د سرخېل  ډېل عبدالله دا خبره چې وايي« دې ته له پامه پرته چې د ډيورند کرښه د افغانستان او پاکستان حقيقي سرحد دی او کنه دی، يا دا چې د افغانستان او پاکستان پوله چيري ده او د پولي د هغي خوا خلک له افغانستان سره د خپل يووالي په اړه څه فکر کوي»، څرګندوي عبدالله چې ځانته د افغانستان د لومړي کچې واکمن پتوګه قايليږي،  يا خو د سياسي ټيټي پوهی له مخي خبر نه دی چې ډيورنډ استعماري کرښه د افغانستان او پنجاب ترمنځ  حقيقي سرحد دی او که نه او يا يې تر اوسه ځان په دې نه دی پوهولي چې د افغانستان او پاکستان پوله چيرې ده، يا ددې مهمې پوښتني په اړه ناګاره او بېخبره تيريږي او يا په پای کي غواړي دا خبره وکړي چې هوکي نوموړی ، ډله او حواريون يې چمتو دی چې ډيورنډ کرښه پښتنو سره د کورنی سيالی يا دوښمنی او پنجاب ته د خوش خدمتی او يا ځو بابيزه ژمنو او ډالرو په بيه وپلوري!

ضيا مسعود او محقق چې ځانونه د ملي جبهي سرخېلان بولي او جبهه يې يوازې د هيواد په ځو شمالي ولسواليو کي د خپلو مليشو په منځ کي ښوريږي، خو دوی ورته د ملي جبهي نوم ورکوي، په هر قدم کي د هيواد د ملي ګټو او ارزښتونو په وړاندې جنګيږي. دوی هم ددې لپاره چې له ډېل عبدالله، قسيم فهيم ، قانوني او دا شان نورو جګړه مارو او لنډه غرو نه شا ته نه وي پاتي، د افغان ولسمشر پر وروستيو څرګندونو نيوکه کوي او وايي چې د ولسمشر وروستی څرګندوني افساني ته ورته دي.

عبدالله چې د ولسمشری په تېرو ټولټاکنو کي د ولسمشری چوکی ته ولاړ و او د ۲۰۱۴ کال په راتلونکو ټولټاکنو کي به بيا هم، خپله اويا دده د ډلي کوم بل څوک دې چوکی ته خامخا دريږي، څنګه کولای شي د ډيورنډ استعماري کرښي په اړه چې د افغانستان او برتانوي هند او بيا د پاکستان په نوم د هيواد ترمنځ تاريخي او حقوقي ستونزه او شخړه ده، ولسمشر کرزي سره د خپلمنځي ستونزي، يا حکومت کي غوړې چوکی ته د نه رسيدو په پلمه، د يوې داسي سترې ملي داعيي په وړاندې ځان په بې مسوليته څرګندونو او اپلتو سپک او تېر کړي!

په داسي مهال چې ټول افغانان په يوه خوله د افغانستان پرخاوره د پنجاب تيری او يرغل غندي او د پنجاب په وړاندې هر زار سرښندني ته چمتو کيږي، نظارشورا او د هغي سرخيلان د پنجاب د تيري په وړاندې نه يوازې دا چې يو شمبر يې چوپ پاتيږي، بلکي په ټوله کي په بې ننګی سره د داسي تيري ملاتړ هم کوي، نو سبا په کوم مخ بيا د ولسمشری په ټولټاکنو کي د افغانانو په مخکي دريږي او له دوی څخه پر دوی د مشری لپاره د رايو غوښتنه کوي ؟

که د پنجاب روستي يرغل ته ځير شو، دوی هغه کرښي ته چې پخپل سر او يوازې ځان يې منلې، بيا هم ژمن نه دي پاتي شوي. دوی له ګنداو او خاپېښ کندو څخه چې ګوندې د ډيورنډ خيالي او استعماري کرښه هلته تيريږی، ۵۵ کيلومتره  د کرښي په بره غاړه د پاتي افغانستان په لور ګوشتي ته رارسيدلي او پوستي او کنترولي دروازې يې درولي دي. دوی ددې پراخي سيمي خلکو ته په زور او دوکي سره د پنجابي تابعيت پيژندپاڼي هم ويشلي دي.

د پنجاب بل ګام د کامي ولسوالی او جلال اباد په لور دی.

خبره يوازې د ډيورنډکرښي په منلو او نه منلو پورې نه راڅنډيږی. د ډيورنډکرښي له منلو سربېره پنجاب په پاتي افغانستان کي هم پراخي ستراتيژيک ګټي ويني. که د نظارشورا او يا ځينو نورو بې ننګه افغانانو په خوله افغانستان له پنجاب سره د ډيورنډ استعماري کرښه هم په رسميت وپيژني ، پنجاب له پاتي افغانستان هم لاس نه اخلي. د افغانستان جيو پوليټيک ، جيو ايکانوميک  او پوځي ستراتيژيک اهميت د پنجاب پکار دی.

د افغانستان په وړاندې د پنجاب جګړه د پورته موخو لپاره په درې ډګرونو کي، پرله پسي شدت پيدا کوي. د پنجابي مليشو په بڼه لکه چې په ګوشته کي يې وينو، د طالبانو په بڼه او د نظارشورا په بڼه!

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ